مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نجم الدين سعيدي

۲۰۲۰/۰۲/۱۸

# نشته ده خوښي وطن کی!

نشته ده خوښي وطن کی ځکه چی رڼا نشته
واک دي د پر دو پلاس کی ستر ګو کې حیا نشته

کور په کور ویرونه دي ناست دي د اولاد سر ته
خان صاحب مستي کې ډوب سترګو کی ژړا نشته

یو ته ئې وزارت رسي بل ته ئې صدارت رسي
خاورې د ولس په سر درد ته ئې دوا نشته

دا داړه ماران ګوره بل جیبو ته ئې ستر ګې دي
خلکو باندې څه راځي د دوئ پکې پروا نشته

غږ دی که را وه ویسته نیغ دې په تندي وهي
څه بې انصافي شوله د ظلم ئې انتها نشته

بس کړه ای سعیده نور څه ناړې سورې وهي
څومره بی علمي شوله پوه پکې ملا نشته

**************************
شاعر : الحاج نجم الدين سعيدي
۲۰۱۳ - ۲ - ۲ - م - کال


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ